# د افغانستان او فلسطين غزه
# په وينه او اور کې ډوبه،
# ستمکونکي په چړچو او لوټ کې مست!

د افغانستان او فلسطين په هر ګوټ کې د بې‌دفاع وګړو وينه بهيږي او موږ هره ورځ ددغو زړه‌بوږنونکو پيښو شاهد يو. پرته له شک څخه د هر ناورين او ويجاړۍ ترشا، سرې خوړونکي نيواکګر شتون لري او د جګړې په اور لګولو سره خپل کرغيړن ژوند پر مخ بيايي. په دې منځ کې د طالبي او صهيونيستي ټولوژنو پر وړاندې نه يوازې په اصطلاح آزادې نړۍ چوپتيا غوره کړې بلکه په پټه توګه سرېوژونکو ته وسله او امکانات هم ورکوي.

د افغانستان غزه او د فلسطين غزه له کلونو راپديخوا د لويديځو او سيميزو ځواکونو د توطئو او دسيسو ښکار ده. موږ د نړۍ د خلکو پر ويښو وجدانونو غږ کوو چې ددغه ښکاره فاشيزم او ځناورتوب پر وړاندې چې نړۍ د شډلتوب خواته بيايي را ولاړ شي کنه ډير زر به دغه ويره هغوی هم په خپله لمنه کې راونغاړي.

د ارګون زړه‌بوږنونکې پيښه چې اوسيدونکو يې خپل هرڅه له لاسه ورکړل، هغه وخت رامنځ ته شوه چې د دولت فاسد چارواکي په راتلونکې دولت کې د څوکۍ تر لاسه کولو لپاره په معاملو کې بوخت وو او د خلکو امنيت يې هير کړی وو. له بل پلوه په پارلمان کې ناستو خلکو هم د خپلو جنايتکارانو ورنو په څير ډګر تش ليدلی وو، پرته له دې چې د خلکو بدمرغۍ او وير په پام کې ونيسي د خپل راتلونکې د هوسايني په خاطر يې په ډيره بې‌شرمۍ سره د وکيلانو د امتيازاتو قانون تصويب کړو.

د طالبانو وينه‌تويه‌ونکې او ناپوهه ډلې د نړۍ د ځارګرو ډلو په اشاره او د پاکستان دولت په مرسته خپلو چادنو، ځانوژنو، بم ايښودنې او پر ملکي ځايونو بريدونو ته زور ورکړې او خپلو کرغيړنو موخو ته د رسيد لپاره زموږ بې‌ګناه خلک وژني. هغوی چې په بې‌شرمۍ سره «د کفارو پر وړاندې جهاد» ناري وهي، ولې په عمل کې له امريکايي «کفارو» سره زړه او ځيګر دي او د نيواکګرو د کرغيړنو سياستونو پلې کولو لپاره منډې ترړې وهي.

په هلمند، قندهار، نورستان، بدخشان، ارګون... کې په زرګونه هيوادوالو شهادت، ټپي کيدل او کډه کيدل د بيوزلۍ او نورو ګواښونو ترڅنګ ددې واقعيت څرګندونه کوي چې د ملت دښمنان ددې هيواد لوټلو او ويجاړۍ لپاره د امريکايي نيواکګر په مرسته يو بل ته لاس په لاس کې ورکړي ترڅو په نږدې راتلونکې کې د ټولو جنايتکارانو او لوټمارانو په يوځای کولو سره يو بويناک دولت رامنځ ته کړي، ترڅو زموږ د خلکو برخليک يو وار بيا د ويجاړۍ خواته بوځي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د ارګون او د فلسطين مبارز ولس کورنيو ته د زړه له کومې تسليت وای، او د طالبانو ځناور بريدونه او پر غزه د اسراييلو فاشيزم په کلکو ټکو غندي. موږ قوي باور لرو چې نه په اوښکو تويولو او کرکه، بلکه يوازې او يوازې د ستم‌کونکو پر وړاندې د ولسونو په راپورته کيدلو چې له هر جنس څخه وي، کولای شو دغه تورې ورځې او کرغيړن داغونه د بشريت له لمنې لرې کړو او آزادۍ ته ورسيږو.

موږ په دې باور يو چې ترڅو د ټولو يرغلګرو، او د هغوی وطني ملاتړو او نورو نيواکګرو لاس زموږ د محرومو وګړو له ستوني لنډ نشي او د خلکو تر ارادې لاندې ملي-دموکراتيک دولتونه منځ ته رانشي، ځپل شوي ولسونه به د سولې او هوسايني مخ ونه ويني او جنايتونه به په همدې څير دوام ومومي. له همدې مخې موږ په ټولو ولسي بنسټونو، آزادۍغوښتونکو شخصيتونو او پرمختللي ګوندونو غږ کوو چې د جنايت او جنايتکارانو پر وړاندې چوپتيا ماته کړي او د محرومو ملتونو د رهبري کولو او پوهاوي لپاره لکه يو موټی يوځای شي.

## د افغانستان د همبستګۍ ګوند

د ۱۳۹۳ کال د زمری ۱ نيټه - (۲۰۱۴ کال د جولای ۲۳ نيټه)

+93 700 23 15 90 | info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | fb.com/hambastagi